سرخط
اول خبر
خلورم کال ۷۵۱ ګڼه، شنبه، ۳۱ وږی ۱۳۹۷

ډاکټر محب له خپل امریکایي سیال سره غږېدلی

۱ پاڼې

د سیاسي بې‌ثباتي پر اس سپاره څه غواړي؟

۲ مخ

وچکالی زیانونه اړولي

په افغانستان کې د وچکالي له کبله ۲ اعشاریه ۲ میلیونه کسان اغېزمن شوي. دا خبره د ملګرو ملتونو سازمان د بشري مرستو څانګې د همغږۍ دفتر کړې او زیاته کړې یې ده چې وروستی شمېرې ښیي چې یوازې په بادغیس کې ۱۲۰ زره کسان د وچکالي له کبله بې‌ځایه شوي دي. د ملګرو ملتونو ...

پاڼې ۱۵

په فاریاب کې نښتې شوې

د فاریاب سیمه‌ییز چارواکي وایي، د دولت‌اباد بازار ته خېرمه په وسله‌واله نښته کې لږترلږه ٦ تنه وژل شوي او څلور نور ټپیان دي. د دولت اباد ولسوال عبدالرزاق کاکړ وایي، دا پېښه داسې مهال شوې چې یوه وسله‌وال مخالف د ډاکټر موسسې قراردادي ...

پاڼې ۱٦

عزیزی بانک
د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د "د موبایل بټوی"(AZI-PAY) خدمتونه ټولو هېوادوالو ته وړاندې کوي. د یادې برېښنایي بټوی له لارې کولی شئ چې له عزیزی بانک بوې بانکی شمېرې څخه پلی بانکی شمېرې ته، له موبایلي بټوی بانکی شمېرې ته او موبایلي بټوی څخه پلی موبایلي بټوي ته پیسې واستوئ، ستاسو ګرځنده تلیفونونو ته د (اتصالات، ام تې ان، سلام او روشن) شبکو ته کریډټ زیاتولی شئ. له دوستانو څخه د بوې بټوی نه پلی بټوی ته پور غوښتنه کولی شئ، د برېښنا بل پرته له فیسه (یوازې په کابل کې) ادا کړئ. تاسې(پیرودونکي او هېواد وال) کولی شئ د (AZI-PAY) اپلیکیشن له اپسټور او ګوګل پلی څخه په وړیا توګه ښکته(دونلود) او خپلو تیلیفونونو کې نصب کړئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank
AZi pay

۳۰۰هزار نفر در یک سال بیجا شده‌اند

سیدحسین عالمی بلخی، وزیرمهاجرین وعودت کنندگان می‌گوید که در یک سال اخیر۳۰۰هزار تن در کشور از خانه‌های خود بیجا شده‌اند. آقای عالمی افزایش ناامنی‌ها و خشکسالی را از علت‌های اصلی بیجا شدن این شهروندان دانسته و می‌گوید:"ما ۵۲ کمپ بیجاشده‌گان در پایتخت داریم و در این کمپ‌ها نزدیک به ده‌هزار خانواده زندگی دارند و شمار این بیجا شده‌گان در پایتخت تنها به ۷۰ تا ۸۰ هزارتن میرسد."

عاشورا در افغانستان با تاکید بر وحدت میان مذاهب

در روز عاشورا، سالروز شهادت امام حسین نواسه پیامبر اسلام ص، محمد اشرف غنی رئیس جمهور، داکتر عبدالله عبدالله رئیس اجراییه و سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور در مساجدی در کابل حضور یافتند...

ادامه ۵

سه هزار بست خالی در هرات

باآنکه طی سال‌های اخیر جوانان تحصیل کرده و مسلکی در افغانستان از نبود فرصت‌های کاری رنج می برند، مسوولان اداره منابع بشری ولایت هرات اما می¬گویند که سه هزار بست در اداره¬های دولتی این ولایت خالی می¬باشد. به گفته محمدآصف سعیدی آمر منابع بشری ولایت هرات، این پست¬های خالی شامل بست‌های سه تا شش می¬شوند که حدود یک هزار و ۵۰۰ بست آن مربوط به معارف می‌باشد.

۲

کانادا خواهوان محاکمه بین المللی جنایات روهینگیا

نمایندگان پارلمان کانادا به اتفاق آرا جنایات انجام گرفته علیه مردم مسلمان روهینگیا را به عنوان "نسل‌کشی" محکوم کردند. پارلمان کانادا روز پنجشنبه (۲۰ سپتامبر) با تکیه بر گزارش هیأت حقیقت‌یابی که از سوی سازمان ملل تعیین شده بود، تقاضا کرد که فرماندهان اردوی برما در محکمه بین‌المللی کیفری محاکمه شوند. برا اساس این گزارش شماری از فرماندهان نظامی برما به طور مستقیم در اعمال جنایات بیرحمانه علیه مردم مسلمان برما شرکت داشته‌اند. پیش از این چندین کشور، از جمله بریتانیا، محاکمه افراد نظامی مسئول در جنایات علیه مردم روهینگیا را خواستار شده بودند.

چین تحریم تسلیحاتی آمریکا را محکوم کرد

تصمیم آمریکا برای تحریم یک سازمان دولتی چین به خاطر خرید تسلیحات و تجهیزات نظامی از روسیه با واکنش تند این دو کشور مواجه شده است. روز جمعه، ۳۰ سنبله سخنگوی وزارت خارجه چین به شدت از اقدام دولت آمریکا در تحریم سازمان توسعه تجهیزات وزارت دفاع چین به خاطر خرید تجهیزات و تسلیحات نظامی از روسیه انتقاد کرد. سخنگوی وزارت خارجه چین گفته است که "ایالات متحده به گونه‌ای جدی هنجارهای اساسی روابط بین‌الملل را نقض و روابط بین دو کشور را دستخوش اختلال کرده است." دولت آمریکا یک روز قبل از این اعلام کرده بود که سازمان توسعه تجهیزات دفاعی وزارت دفاع چین و سرپرست آن را به خاطر خرید ده فروند جنگنده سوخوی-۳۵ و تجهیزات پدافند هوایی اس-۴۰۰ از روسیه تحریم کرده است.

امریکا پر چین بندیزونه ولګول

امریکا له روسي څخه د پوځي الوتکو او له ځمکې هوا ته ویشتل کېدونکیو توغندیو د اخیستلو له امله د چین پر پوځ بندیزونه ولګول. واشنګټن وایي، د بېجینګ دا معامله د متحده ایالتونو له هغو بندیزونو سره ټکر دی چې په اوکراین کې د چلن او د امریکا ولسمشرۍ ټاکنو کې د ادعایي لاسوهنې له امله یې پر روسیه لګولي دي. چین په وروستیو کې لس روسي سوخو (Su-۳۵) جنګي الوتکې او (S-۴۰۰) توغندي رانیول. بېجینګ د هغو بندیزونو ملګري نه دی چې له ۲۰۱۴ کال راهیسې یې امریکا او د هغې لوېدیځوال ملګري پر روسیه لګوي. دغه هېواد د روانې میاشتې په لومړیو کې د روسیې تر ټولو لویو مانورو ...

۱۳ ادامه

ادامه فعالیت‌های طالبان و شبکهٔ حقانی در پاکستان

وزارت خارجهٔ ایالات متحدهٔ امریکا گزارش سالانه‌اش را نشر کرد که بربنیاد آن، فعالیت‌های گروه طالبان و شبکهٔ حقانی در پاکستان محدود نشده اند. در این گزارش، آمده است که هرچند اسلام آباد برای کمک به گفتگوهای صلح افغانستان تعهد سپرده است، اما فعالیت‌های طالبان را که از پناهگاه‌های امن درپاکستان نیروهای امریکایی و افغان را در افغانستان تهدید می‌کنند، محدود نساخته است. در بخش دیگری این گزارش، آمده است که ایران نیز از گروه‌های هراس افگن در افغانستان پشتیبانی می‌کند. در این گزارش، از فعالیت‌های شبکهٔ القاعده و نیز پنهان ...

ادامه ٦

سرنوشت نامعلوم کالاهای تجارتی در بندر فراه

شماری از باشندگان و تاجران ولایت فراه از توقف برخی اقلام تجارتی از بندر فراه اعتراض دارند. وزارت مالیه افغانستان روز بیست و پنجم ماه سنبله واردات مواد نفتی، سمنت، آهن آلات، سرامیک و کاشی را از راه بندر ولایت فراه متوقف ساخت. گفته شده که تصمیم وزارت مالیه، باعث شده است که روند داد و ستدهای کالاهای تجارتی بگونه کامل در این بندر متوقف شوند. اتاق تجارت و صنایع می‌گوید که در پی این همه افزون بر زیانمند شدن باشندگان وتاجران ولایت فراه، درآمدهای گمرکی وزارت مالیه نیز بگونه چشمگیری کاهش یافته است. به گفته تاجران وزارت مالیه در نخست گمرک این ولایت را از شهر فراه هفتاد کیلومتر دورتر به بندر ابونصر فراهی انتقال داد و هنگامی در آنجا با کاهش درآمدها و فساد بیشتر روبرو شد، سر انجام به متوقف ساختن واردات کالاهای مهم از این بندر تصمیم گرفت. وزارت مالیه افغانستان اما تاکنون در مورد کالاهای بی سرنوشت در این بندر هیچ طرحی ارایه نکرده است.

ده‌ها کشته و زخمی در اثر حادثه ترافیکی

ادامه ۳

مقامات حکومت افغانستان باطالبان دیدار می‌کنند

بربنیاد گزارش‌های رسانه‌های روسی، قرار است نمایندگان حکومت افغانستان و طالبان در نشست مسکو با هم دیدار کنند. ضمیر کابلوف، فرستادهٔ ویژهٔ روسیه برای افغانستان به رسانه‌های روسی گفته است که مقام‌های حکومت افغانستان آمادگی شان را برای دیدار با نمایندگان طالبان در نشست مسکو اعلام کرده‌اند. آقای کابلوف گفته است که زمان دقیق برگزاری نشست مسکو که در آن نمایندگان حکومت افغانستان، طالبان و دوازده کشور منطقه دعوت شده اند، روشن نیست. حکومت افغانستان روز چهار شنبه هیأتی را برای گفتگوها با مقام‌های روسی در بارهٔ نشست مسکو به روسیه فرستاده است.

افغانستان او مسکو سره غږېږي

په مسکو کې د افغان حکومت یوپلاوی د مسکو د غونډې پر اجنډا له روسي چارواکیو سره خبرې وکړې. د بهرنیو چارو وزارت د معین نصیر احمد اندېشه په مشرۍ د افغان حکومت دغه پلاوی ورمه ورځ د افغانستان لپاره د روسیې له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او د روسیې د بهرنیو چارو وزارت له معین ایګور مارګلوف سره کتلي دي. بله خوا د افغانستان د سولې عالي شورا د دارالانشا مشر او د دې هیئت غړي اکرم خپلواک ویلي، په دې کتنه کې د روسیې غوښتنه دا وه ...

پاڼې ۹

د جوزجان چارواکي نور سرتېري

د جوزجان امنیتي چارواکي وایي، دې ولایت ته د مرستندوی ځواک په استولو کې ځنډ د دې باعث شو چې په خماب او قرقین ولسوالیو کې د طالبانو پرضد عملیات لا هم نه دي پیل شوي. د جوزجان د امنیه قوماندانې د امنیت امر عبدالحفیظ خاشع وایي، د دې دوو ولسوالیو دېرې سیمې د طالبانو په ولکه کې دي. د راپورونو له مخې، د جوز جان ولایت خماب ولسوالي نژدې ...

پاڼې ۸

قیس احمد د بنګله‌دېش پریمیر لیګ کې لوبېږي

پاڼې ۱۴

رئیس جمهور ویتنام چشم از جهان پوشید

مطبوعات رسمی ویتنام اعلان کرد که رئیس جمهور این کشور تران دای کوانگ به‌خاطر مریضی شدید در سن ٦۱ ساله‌گی از جهان چشم پوشید. خبرگزاری رسمی ویتنام گزارش داد که رئیس جمهور تران دای ساعت ده و پنج دقیقه صبح روز ۲۱ سپتمبر به وقت محلی این کشور در شفاخانه جان داد. تران دای کوانگ در سال ۲۰۱٦ بحیث کاندید بدون رقیب از سوی حزب کمونیست به این مقام انتخاب شد.

ترامپ: رئیس جلسه شورای امنیت درباره ایران خواهم بود

دونالد ترامپ، رئیس جمهور آمریکا، در توییتر خود اعلام کرده است که هفته آینده ریاست جلسه شورای امنیت سازمان ملل درباره ایران را به عهده خواهد داشت. در صورتی که جلسه شورای امنیت درباره ...

ادامه ۱۰

ټاکنې بایو میټریک کېږي

د حکومت اجرایيه رییس وایي، د ولسي جرګې را روانو ټاکنو کې به رایې ورکوونکي بایو متریک شي. عبدالله عبدالله د برهان الدین رباني د ۷م تلین په مراسمو کې وویل، د ټاکنو خپلواک کمېسیون به د رایې ورکوونکیو د بایو میټریک څرنګوالی اعلان کړي. ښاغلي عبدالله هغه اوازې ...

پاڼې ۷

سه هزار بست خالی در هرات

از سوی دیگر کمیسیون مستقل اصلاحات اداری از رقابت آزاد و برگزاری کانکور عمومی برای جذب افراد مسلکی در ادارات دولتی، سخن می زند. در حالیکه آقای سعیدی تغییر پروسه رقابتی برای استخدام کارمندان اداره‌های دولتی را عامل اصلی خالی بودن این بست-ها عنوان می¬کند.

وی تصریح می¬کند که از ماه ثور امسال، روند پروسه استخدام کارمندان دولتی از طریق امتحان کانکور لغو و بجای آن استخدام به شیوه گذشته صورت خواهد گرفت تا متقاضیان کار در بست‌های خالی جذب شوند.

به گفته آمر منابع بشری ولایت هرات، در حال¬ حاضر تعدادی از این بست¬ها به اعلان گذاشته شده است و به زودی نیروی کار در این بخش‌ها استخدام خواهند شد.

مسئولان منابع بشری ولایت هرات درحالی چنین رقم درشتی را از خالی بودن بست‌های اداره¬های دولتی ارایه می دهند که هزاران جوانان بخصوص فارغان پوهنتون‌ها در این ولایت با مشکل بی‌کاری دست و پنجه نرم می‌کنند.

این تنها جوانان ولایت هرات نیستند که با وجود خالی بودن هزاران بست در ادارات دولتی از عدم فرصت‌های کاری رنج می برند، بلکه افراد تحصیل کرده و مسلکی که در سال های اخیر از پوهنتون‌های کشور فارغ شده اند، در گوشه گوشه کشور فراوان اند و همه بگونه وحشتناکی نسبت به آینده شان نگرانی دارند.

بیکاری و عدم فرصت‌های شغلی در سال‌های اخیر موجب فرار شمار زیادی از جوانان افغان از کشورشان شده و اکنون مهاجران افغان در نقاط مختلف دنیا سرگردان هستند. البته مهاجرت نیز راه آسانی برای نجات جوانان افغان از بی کاری نبوده؛ زیرا شمار زیادی از جوانان تحصیل کرده افغان در مسیر راه‌های مهاجرت طعمه قاچاقبران انسان شده و شماری هم در مسیر های خطرناک مهاجرت در کوه‌ها و دریا ها جان شان را از دست داده اند.

با این حال نظر به معلوماتی که وزارت اقتصاد ارایه می دهد، بیش از نیمی از افراد واجد شرایط در کشور بی کار هستند. براساس آمار این وزارت ۱۵ ملیون و ۶۰۰ هزار نفر در کشور واجد شرایط کاری هستند که بیشتر از ۷ ملیون آنان بی کار می باشند.

باوجود تلاش های حکومت وحدت ملی برای فراهم سازی زمینه های کاری برای مردم، اما دیده می شود که هرساله به شمار بی کاران افزوده می شود نه اینکه کاسته شود.

تحلیل

د سیاسي بې‌ثباتي پر اس سپاره څه غواړي؟

افغانستان په زیاتیدونکي ډول د سیاسي بې‌ثباتي پر خوا ګامونه اخلي. د سولې خبرې تتې او د کابل ځای پکې ورک دی. پر راتلونکي یې بیا د نړۍ لوی قدرتونه په خپلو کې چنې وهي. د سیمې ګاونډیان یې د ترهګرۍ ضد امریکایي جګړه کې خښول غواړي. نیابتي جګړو پکې زور اخیستی او هر نړیوال او سیمه‌ایز پهلوان په دغه رینګ کې لوبې ته رامخې ته شوی دی.

دلته د ایران، سعودي او امریکا نیابتي جګړه په پراخېدو ده، د هند او پاکستان نیابتي د اورلوبې لمبې سیمې ته په پراخېدو دي. د ماسکو او واشنګټن په ګرمېدونکي بزکشۍ کې د چین په ګډون یو شمېر نور هم خپل اسونه څغلوي او تمه یې دا ده چې د کورنیو لوبغاړیو په مټ به له دې لوبې څه تر لاسه کړي، خو تاریخ ښوولی چې دلته د هر را مخې ته شوي زبرځواک ۳۴ غاښونه توی شوي او تشه خوله یې پښې سپکې کړې دي. د افغانستان دننه کورني سیاسي څنورد ټاکنو په ختین ډنډ کې سریښ دي او هریو یې خپلې ببولالې غږوي. څوک یې نظام ګواښي، ځینې یې ولسمشر ښکنځي او نور یې ملت ګواښي. هېواد د ګرنګ پر غاړه روان دی، خو څو قومي او سیاسي ټېکه‌داران د خپلو شومو موخو په لټه کې دې څورېدلي ولس ته مرګوني ګواښونه کوي.

د سیاسي ټیکاو د کاواکه کولو پخوانی عادت یې نه دی پرېښی او په ډېرې بې شرمۍ سره د ولس دیرغمل کولو او د بحران ژورو ته د افغانستان د ورټیل وهلو ګواښونه کوي. افغانستان کیدی شي په نړۍ کې لومړی او وروستی هیواد وي، چې د سیاست د لومړۍ کرښې لوبغاړي یې د نظام د پاشل کیدو ډنډوري غږونکي ورته د احترام وړ دي او ددوی ټول تیاره او وژونکي تاریخ ته په کتو سره د ملت د رندو ډلګۍ پسې رواني دي.

دافغانستان په نوم هیواد کې تر بینا انسانانو رانده ډېردي او هغو ته ماما وایي چې له دوی څخه یې سترګې ویستلې، پرحافظه یې خپل ترمامیتر لګولی او د اوریدو قوه یې ترې اخیستې ده. په دې بیچاره ټولنه کې اوس د ډیموکراسۍ دتدریس چاره هغو ته ورپاته شوې چې تراوسه هم ددغې کلیمې په پوره مانا نه پوهېږي اودنظام، ولس او ملي بنسټونو ضد د زور ژبه او ګواښ ورته ډیموکراتیک حرکت ښکاري. په کور دننه له دیموکراتیک سیاست سره بلدیدونکي پروني ښکرور، افغانستان کې د ولسواکۍ بیخ ته تبر نیولی او باور یې دادی، چې په دغه لوبه کې دوی خپل هرڅه له لاسه ورکونکي دي.

د افغانستان په وروستیو ۴۰کلونو کې دقومي ګوندونو ټیکدارانو تل د هرهغه خوځښت سوله ییز او وسله وال مخالفت کړی، چې ددوی ګټې پکې نه ښکاریدې. په ۲۰۱۴ کال کې دوی د ټاکنو د کمیسیون له جوړښت سره مخالفت پیل کړ، خو چې هغه ارمان یې پوره شو بیا یې د ټاکنو په کمیسیون کې د خپلو ماما زامنو د ور دننه کولو هڅې پیل کړې، چې خوا یې له هغه اړخه سره شوه، نو دټاکنیز سیستم د مخالفت ناره یې پورته کړه. چې ولسمشر د ټاکنو لپاره د نویو تذکرو د ویش او د راتلونکو ټاکنو د بریښنایي کیدو خبره وکړه، نو دوی یې په مخالف صف کې ودریدل. چې حکومت ورسره په زاړه سیستم او زړو تذکرو د راتلونکو ټاکنو ترسره کیدل ومنل، نو دوی یې په خوښۍ کې ګوړې ماتې کړې. چې دا کیسه پای ته نژدې شوه، نو دوی د ټاکنو د بایومتریک کیدو او د ټاکنو د قانون او سیستم د بدلیدو نغاره ډنګول پیل کړل. د ټاکنو د قانون پراساس دټاکنیزسیستم د بدلون خبره باید د ټاکنو له نیټې پوره یوکال وړاندې حل شوې وي او ترهغه وروسته په دې موضوع بحث نشي کیدلی. خو دلته یوشمیر په نوم سیاستوال د شفافیت او مدني اعتراض په نوم د ټاکنو دکمیسیون د دفترونو دروازې تړې او د ټولو خلکو په وړاندې سرکونه بندوي او د نظام له چپه کونکو سره مرسته کوي او حکومت او ملت ګواښي. دلویې ټلوالې په چوکاټ کې یوشمیرغیرمتجانسې راغونډې شوې څېرې بیا په ډېر خندونکي ډول د ټول افغان ولس د ملاتړ دعوه کوي او ګواښ کوي، چې که یې حکومت غوښتنې ونه مني ، د خلکو پرمخ لارې تړي، کاروبار یې بندوي، نظام را پرزوي، بحران رامنځ ته کوي او د ټاکنو د تر سره کېدو مخه نیسي.

دا ډول ګواښونه په دې وروستیو کې د یوه مشخص ادرس لخوا مخ په ډېرېدو دي او په لوی لاس هڅې پیل شوي، چې یولوی ملي بهیر بې لارې او شته سیاسي ټیکاو کاواکه کړي. دغه کړی په پرلسې ډول د خلکو ذهنونو ته ذهرپاشي او پرخلکو واکمن نظم له منځه وړي. د خیر او بې خیرۍ په ټال یوشمیر نورو څنګیدونکو بیا له بل اړخه ددولت د ستنو د نړیدو هڅه پیل کړې او د موقت حکومت شعار زمزمه کوي. دوی فکر کوي، چې له امریکا سره مخالفت یې درد دوا کولی شي او که هرڅه له صفره پیلیدل د افغانستان د روان کړکیچ د حل وروستۍ کیلي ده. دغې ډلګۍ په دې فکر نه دی کړی، چې د جوړ شوي نظام د پاشل کېدو مسولیت څوک اخلي او د سلګونو زره افغانانو په وینو ددغه را منځ ته شوی نیم‌واکه نظام را منځ ته کېدونکی زیان به څوک ګالي؟

سرلیکنه

له وسلې تر سولې مزل رښتینې اراده غواړي

پرون د سپټمبر ۱ آمه نېټه د سولې نړیواله ورځ وه، موږ داسې مهال له دې ورځې تېرېږو چې تر دې مهاله هم په افغان جغرافیه کې سوله د خلکو یوه هیله، د سرکار پروژه او د مرکچیانو بزنېس دی. په تېرو څه کمو دوو لسیزو کې د سولې په نوم په ملیونونو ډالر مصرف شول او وخت ضایع شو، خو جګړه د دې پر خلاف چې سره شي لا ګرمېږي او هره ورځ د لسګونو افغانانو ژوند اخلي.

له یوه لوري ادعا لرو چې په افغانستان کې د امریکا او روسیې، سعودي او ایران او پاکستان او هند نیابتي جګړې رواني دي او روانه جګړه د افغانانو نه ده، له بل لوري مو بیا د سولې عالي شورا په نوم د اشرفیو د وېشلو بنسټ جوړ کړی او تمه ترې کوو چې ټوله نړۍ او ښکېل هېوادونه دې له جګړو منعه کړي او سوله دې راولي.

له هغه وروسته چې د سولې عالي شورا جوړه شوې او تر دې دمه فعالیت کوي، کومه لاسته راوړنه لري؟ څوک یې له جګړې سولې ته راوستې دي او په دغه ډول چې دوی روان دي، ایا دا فکر هم کېدای شي چې دوی به په افغانستان کې سوله راولي؟ خو ماشومانو ته د چپنو ور اغوستل او بیا د شوروي د وخت د زنګ وهلیو وسلو په لاس ورکول او عکسونه ترې اخیستل، د سولې په لوري ګام دی که لا وسله والو طالبانو ته سپکاوی او له سولې یې زړه تورول دي؟ د طالبانو د سولې دفتر او ادرس مالوم دی که رښتیا هم فکر کوئ، سولې ته زمن یاست او دا مو د وسې کار دی، مخامخ ورسره خبرې وکړئ او هر څه له ولس سره شریک کړئ.

اصلي خبره دا ده چې لا هم په افغانستان کې د ښکېلو هېوادونو له خوا دلته د سولې لپاره اراده نه‌شته او د سولې په نوم ټول حرکتونه یوازې افغانانو ته دوکه ورکول دي.

تر هغې چې د دې هېوادونو په ځانګړې ډول امریکا، روسیې او پاکستان له لوري سولې ته په رښتیني ډول اراده پیدا نه‌شي او خپلې ګټې په سوله کې ونه ګوري، ستونزمنه ده چې موږ دې له دې روان حالت د سولې او ثبات په لوري لاړ شو.

بله اندېښنه دا ده چې که فرض کړو همدا نن طالبان له افغان حکومت سره سوله کوي او له جګړې لاس اخلي، له داعش سره څه کوئ، داسې ښکاري چې په لوی لاس داعش ډله تقویه کېږي، ملاتړ ترې کېږي او ستر پېږي او دا وېره په ډېرېدو ده چې تر دې د جګړې یو بل ډېر خطرناک فصل پیلېدونکی دی.

له دې کبله افغان حکومت ته ښایي، چې په رښتیني ډول د سولې لپاره ګام واخلي، نړیوالو ته په څرګنده ووایي، چې نور په افغانستان کې د جګړې دوام ته اجازه نه ورکوي او که په هره بیه تمامېږي دوی پر دې ټاټوبي نوره جګړه نه شي زغملی. د سولې په نوم هڅې دې له پروژېږي هغه راوباسي او په رښتیني ډول دې ځان او افغانان قانع کړي چې دغه هڅې رښتیا هم د سولې د راوستو لپاره موثرې دي.

څکه تر هغې چې حکومت په رښتیني ډول د بهرنیو دسیسو پر وړاندې په ټینګه ونه درېږي، دلته د جګړې دربدل ستونزمن دي او دغه وضعیت د ښه کېدو په لوري د لا خرابېدو په خوا روان دی.

نور هغه وخت را رسیدلی دی چې په خپل ټول توان په افغانستان کې د بهرنیانو د لاسوهنو مخه ونیسو، په رښتیني ډول د سولې په لوري ګام واخلو او ټولو ته څرګنده کړو، چې که هر څه وي نور بس دي.

موږ باید نور د ملي حاکمیت د رښتیني تمثیل اراده او قوت ومومو او په ټول څواک او یوه غږ د سولې په لوري لاړ شو، که نه په دې روانو هڅو او وضعیت څه نه شو ترلاسه کولای.

اداره

۱ ډاکټر محب له خپل امریکایي ...

د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکټر حمدالله محب تیره ورځ په سپینه ماڼۍ کې له خپل امریکایي سیال جان بولټن سره وکتل. په دې لیدنه کې دواړو غاړو د افغانستان او سیمې سیاسي او امنیتي حالات بررسي کړل، د افغانستان او جنوبي آسیا له پاره یې د امریکا د متحده ایالاتو د ستراټېژي پر مؤثریت او له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې هر اړخیزې خبرې وکړې.
له امنیت شورا څخه سرخط ته په یوه رالېږل شوې خبرپاڼه کې ویل شوي دي چې دوی د افغانانو په مشرۍ د سولې په برخه کې پر روانو چارو دوه اړخیز مالومات له بل سره بل سره شریک کړل.
د سرچینې په خبره، ډاکټر حمدالله محب په خپلو خبرو کې په نړدې راتلونکي کې د افغانستان هوایي ځواک له پاره د تازه جنګي الوتکو سپارل له ترهګرۍ سره د مبارزې او افغان ځواکونو د پیاوړتیا په برخه کې مهم ګام وباله.
ډاکټر محب د سولې له بهیر څخه د سیمې د هېوادونو ملاتړ مهم و باله او پر هغو هېوادونه یې د زیات تمرکز غوښتنه وکړه چې د خپلو شخصي ګټو په موخه د افغانستان د سولې له بهیر سره مرسته نه کوي.

۳ ده‌ها کشته و زخمی در اثر ...

مقامات محلی در ولایت فراه از وقوع یک حادثه جاده‌ای در این ولایت خبر می دهند که باعث کشته شدن دست‌کم ۱۵ نفر و زخمی شدن ۳۰ نفر دیگر شده‌است. ناصر مهری، سخنگوی والی فراه گفته است که این حادثه صبح روز(جمعه ۳۰ سنبله) به دلیل برخورد یک بس مسافر بری با یک تانکر رخ‌داده است.
به گفته او تصادف در منطقه "پوزک "ولسوالی "بکوا" در ولایت فراه اتفاق افتاده و بس نوع ۳۰۴ از هرات به سمت کندهار در حرکت بوده که با یک تانکر برخورد کرده است. در میان کشته شدگان سه زن و دو کودک هم شامل هستند. وضعیت ۱۴ نفر از زخمی شدگان وخیم گزارش شده که به مراکز صحی ولایت کندهار منتقل‌شده‌اند.

۵ عاشورا در افغانستان ...

و در بین عزاداران سخنرانی کردند.
رئیس جمهورغنی گفت که حکومت برای مبارزه با تروریسم اراده جدی دارد و مردم باید وحدت و انسجام شان را علیه "دشمن" حفظ کنند. او افزود که نباید گلایه‌مندی‌ها و اختلاف نظرهای سیاسی مانع انسجام و یک پارچگی مردم افغانستان گردد. آقای غنی تاکید کرد که وحدت مذهبی در افغانستان برای کشورهای دیگر مثال است و این وحدت نباید خدشه دار شود. این مراسم امسال در سراسر افغانستان بدون وقوع هرگونه حوادث ناگوار سپری گردید. در حفظ امنیت این مراسم تلاش‌های مردمی به همکاری نیروهای امنیتی، نتیجه خوبی بجا گذاشت. ریاست امنیت ملی افغانستان از بازداشت ۲۶ عضو مظنون داعش خبر داده که ظاهراً در تلاش حمله بر مراسم محرم بوده اند.

۶ ادامه فعالیت‌های طالبان ...

شدن اعضای تحریک طالبان پاکستان در برخی از بخش‌های مرزی ناامن افغانستان و پاکستان ابزار نگرانی شده است.

۷ ټاکنې بایو میټریک ...

رد کړې چې ګواکې د ولسمشرۍ راروانو ټاکنو کې به د کوم کاندید مرستیال وي، خو دا یې وویل چې د ملي یووالي حکومت به تر خپلې قانوني مودې کار ته دوام ورکړي.

۸ د جوزجان چارواکي ...

دوه اوونۍ مخکې وسله‌والو طالبانو ونیوله او چارواکیو وروسته وویل چې د قرقین ولسوالي پر ډېرو سیمه هم طالبانو ولکه ټینګه کړې.

۹ افغانستان او مسکو ...

چې د مسکو غونډه دې یو هدف او یوه اجندا تعقیب کړي، هغه دا چې د افغانستان د سولې د مستقیمو خبرو لپاره څنګه چمتووالی ونیول شي او دا مذاکرې څنګه پیل شي. دی زیاتوي، د مسکو د غونډې د اجندا او د برخوالو د فهرست تر نهایي کېدو وروسته به د دې غونډې نېټه مشخصه شي.

۱۰ ترامپ: رئیس جلسه ...

ایران باشد، هرچند که ایران عضو شورای امنیت نیست، اما نماینده ایران می‌تواند در چنین جلسه‌ای حاضر شود. حدود دو هفته پیش نیکی هیلی، نماینده آمریکا در سازمان ملل، اعلام کرد جلسه‌ای در شورای امنیت درباره ایران برگزار می‌شود که دونالد ترامپ رئیس آن خواهد بود. اما بعدتر منابع آمریکایی گفتند که می‌خواهند تمرکز جلسه را از ایران بردارند و به موضوع کلی مقابله با گسترش تسلیحات هسته‌ای بپردازند.
بنا به اعلام وزارت خارجه ایران، حسن روحانی و جواد ظریف برای شرکت در مجمع عمومی سازمان ملل به نیویورک سفر خواهند کرد. جلسه‌ای که بنا به اعلام دونالد ترامپ ریاستش با او خواهد بود در ۲۶ سپتامبر، و یک روز پس از سخنرانی حسن روحانی در مجمع عمومی سازمان ملل برگزار می‌شود.

۱۳ امریکا پر چین بندیزونه ...

کې هم ګډون وکړ. په ۲۰۱۴ کال کې له روسیې سره د اوکراین د کریمیا یوځای کېدلو پسې د مسکو او واشنګټن اړیکې هم خراب شول.
پر روسیې دا تور هم لګېږي چې د امریکا د ۲۰۱۶ کال ولسمشرۍ ټاکنو کې یې لاسوهنه کړې او سوریه کې پوځي ښکېلتیا یې د دغه هېواد روانه کورنۍ جګړه کې تاوتریخوالی ډېر کړی دی.

۱۴ قیس احمد د بنګله‌دېش ...

د افغانستان د کریکټ ځوان لوبغاړی قیس احمد د بنګله‌دېش په پریمیر لیګ کې لوبېږي. قیس احمد د راجشاهي کینګز له لوبډلې سره تړون لاس لیک کړی دی. قیس اوس اوس د ویسټ انډیز په تجارتي سیالیو کې هم لوبېده او وځلېده. ده هلته د هاشم امله او شعیب ملک غونډې مشهور لوبغاړي وسوځول. قیس احمد امریکا غږ ته ویلي وو چې دی غواړي د نړۍ سترو لیګونو کې ولوبېږي. ټاکل شوې وه چې د بنګله دېش پریمیر لیګ د همدغه کال په اکتوبر کې پیل شي، خو اوس داسې ویل کیږي چې ښایي د ۲۰۱۹ کال په جنوری کې وشي.

۱۶ په فاریاب کې نښتې ...

موټر له موټروان او د دې موسسې له یوه کارکونکي سره برمته کړ او د ولسوالي مرکز ته ننوتو سره له یوه ولسي پاڅونوال سره په نښته شو. ولسوال کاکړ زیاته کړې، د نښتې په پایله کې یو ولسي پاڅونوال او یو هتیوال شهیدان شوي او د یو ساتنمن په ګډون ۲ کسه ټپیان شوي. دی زیاتوي، دغه وسله‌وال مخالف له نښتې وروسته د پېښې له ځایه تښتېدلی، خو د پوځ سرتېرو تعقیب کړی و. د دولت اباد د ولسوال په خبره، وروسته بیا د وسله‌والو مخالفینو د ډلې او د پوځ سرتېرو ترمنځ نښته شوې چې په پایله کې یې ۴ تنه وسله‌وال مخالفین وژل شوي او یو تن ټپي شوی.

۱۸ انتخاب بازیگر نقش ...

گرچه پیشتر سعید تغماوی، بازیگر فرانسوی فلم «زن شگفت انگیز» به عنوان بازیگر نقش منفی جدیدترین قسمت «جیمز باند» انتخاب شده بود، اما خروج دنی بویل از این پروژه، وضعیت این نقش را نامعلوم کرده است. سعید تغماوی گفته که دنی بویل کارگردان انگلیسی پیش از خارج شدن از پروژه «جیمز باند» در ماه گذشته او را برای شخصیت اصلی منفی قسمت جدید این فلم انتخاب کرده بود، ولی تهیه کننده‌گان فلم باربارا بروکولی و مایکل ویلسون هنوز تصمیمی در باره ملیت شخصیت منفی «جیمز باند» نگرفته اند. بازیگر فلم «نفرت» بیان کرده: «نمی‌دانم که کارگردان آینده فلم چه کسی است و تهیه کننده‌گان هم چیزی از آن نمی‌دانند.» برنامه ریزی شده بود که تولید قسمت ۲۵ جیمز باند در ماه دسامبر آغاز شود و در خزان سال آینده نیز پخش گردد.

۱۹ ټایگر شروف هم هالیوود ...

د هندوستان مشهور ستوری چې په لنډه موده کې یې د شهرت لوړ پړاوونه ووهل، ډاډه دی چې هالیوود ته به لار پیدا کړي. ټایګر شروف وایي، د هالیوود مشهور پروډیوسر مورټل کومبټ په پټه له ټایګر سره کتلي او په ډېرو مهمو پرېکړو هوکړې ته رسېدلي دي. تر ټایګر وړاندې دپیکا او پریانکا د بالیوود دوه ستورې وې چې هالیوود ته ولاړې.

۲۰ سمسونګ ۳کامره‌یي موبایل ...

سمسونګ کمپنۍ په لومړي ځل د خپلو تولیداتو په برخه کې درې کامرې والا ګرځنده ټلېفون بازار ته وړاندې کړ. تر ټولو جالبه دا ده چې د دې ګرځنده ټلېفون تصویرونه یوه ورځ وړاندې په رسنیو کې خپاره شول، خو سمسونګ هم پسې سمدستي دا موبایل بازار ته وایست.
دا موبایل ۶ انچه سکرین لري او تر څنګ یې له ۶۴ تر ۱۲۴ جې بي حافظه، ۳۰۰۰ایم‌اې‌ایچ بېټرۍ او له ۴ تر ۶ جې‌بي رېم لري. اوس داسې ویل کېږي چې سمسونګ څکه دا ګرځنده ټلېفون ژر بازار ته وړاندې کړ چې غواړي د اکتوبر پر یوولسمه نېټه بل موبایل هم بازار ته را وباسي.

۲۱ برنامه‌ای فروش ۱۰ میلیون ...

کمپنی موترسازی فولکس واگن قصد دارد ۱۰ میلیون موتر برقی «EV» را بر اساس ماتریس الکتریکی ماژولار «MEB» در تمام برندهای خود به فروش برساند.
این شرکت امیدوار است تا سال ۲۰۲۰، تعداد ۱۵۰ هزار دستگاه موتر برقی به فروش برساند که ۱۰۰ هزار دستگاه آن از مودل‌های تولید شده در آلمان خواهد بود. پلت‌فرم MEB به طور خاص برای رقابت با موترسازان نظیر تسلا و دیگر برندهای که موتر برقی می‌سازند، طراحی گردیده است. این پلت‌فرم بر اساس میزبانی از یک بطری با ظرفیت بالا به طور مداوم و همزمان با پایین آوردن مرکز جاذبه، اداره موتر را بهبود می‌بخشد.
فولکس واگن همچنین قول چارج نسبتاً سریع را داده است. به طوری که هر موتر ظرف نیم ساعت به ظرفیت ۸۰ درصد برسد. فولکس واگن در ۲۰۱۷ تعداد ۱۰,۷ میلیون موتر را در سراسر جهان فروخته است.

۲۲ د ۲۶ کلنې ماشومې ...

کرستینا اینوریکزیا هغه ناروغه ده چې په ۲۶ کلنۍ کې یې ټول وزن اووه لس کیلو دی. هغه د خوارځواکۍ ښکار ده او ډوډۍ نه خوري. د روسیې دا اوسېدونکې وایي، د ښوونځي له مهاله یې خوراک څښاک پرې ایښی او تر دې حاله را رسېدلې ده. د هغې وجود اوس څلور کلن ماشوم ته ورته دی، خو ښکلا یې له ورایه ښکاري چې یوازې پر وجود د غوښې کمی دی. کرستینا وایي، زړه یې ډوډۍ ته نه کېږي، خو کله چې یې مخ کې څوک څه خوري او لږ ترې څه پاتې شي، دا پرې خفه کېږي چې ولې یې دا خواړه پرېښوول. هغه وایي، هیله لري چې وزن واخلي او یوه ورځ لکه د نورو خواړه وخوري.

۲۳ اینموری؛ هنر جاپانی ...

جاپانی‌ها از ملت‌های اند که بیشترین کمبود خواب را در جهان دارند. طبق تحقیقات، آنها به طور متوسط ۶ ساعت و۳۵دقیقه در روز می‌خوابند؛ بنابراین بیشتر آن‌ها سرکار، در راه، پارک، کافی شاپ، کتاب‌فروشی، مرکز خرید و سایر مکان‌های عمومی خواب شان می‌برد. این اتفاق آنقدر طبیعی و عادی است که جاپانی‌ها برای شان کلمه اینموری را به کار می‌برند، برعکس کشورهای دیگر دنیا که خوابیدن در محل کار شرم است و ممکن سبب اخراج شود. مردم جاپان ساعات زیادی کار می‌کنند و در راه برگشت به خانه می‌خوابند. متعلمین تا دیروفت درس می‌خوانند و روز بعد در صنف چرت می‌زنند. در فرهنگ جاپان خوابیدن در جلسه، صنف و گردهمایی‌های اجتماعی حالا عادی شده، اما قوانینی هم در ارتباط با اینموری وجود دارد و به این بستگی دارد که شما کی هستید، اگر کارمند جدید باشید باید نشان دهید که چقدر فعال هستید و نمی‌توانید بخوابید. هرچه سطح اجتماعی‌تان بالاتر باشد، بیشتر می‌توانید بخوابید. علاوه بر این، شاید کسی که می‌خوابد از نظر ذهنی حضور نداشته باشد، اما وقتی به مشارکت فعال نیاز است باید بتواند به وضعیت اجتماعی بازگردد. بدن باید وانمود کند که شما در جلسه فعال هستید، مثلاً نمی‌توانید زیر میز بخوابید. باید طوری بنشینید که گوش می‌دهید و فقط سرتان پایین است.

د لاجوردو لار پرانیسته د افغانستان ټرانزیټي انقلاب

حمیدالله فیضي

د افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، گرجستان او ترکیې تر منځ د لاجورد لارې د هوکړه‌لیک له لاسلیک څخه چې نږدې ۱۱ میاشتې تېرې دي. د سوداگرۍ او صنعت وزارت په وینا کابو یوه میاشت وروسته به دا موافقه عملي شي او په لومړي گام کې له افغانستان څخه لاسي صنایع او وچې مېوې له دې لارې اروپا ته صادرې شي.

هغه لار چې د اروپا له خوا له گرجستان، اذربایجان، ترکمنستان او افغانستان څخه تېریږي. کومه لار چې بهرنیو ځواکونو د خپلو تجهیزاتو د لېږد په خاطر پراینسته، اوس اروپا ته د افغانستان د ټرانزیټ په سترې لارې بدله شوې ده. افغانان هیله لري چې په راتلونکې کې وکولای شو له همدغې لارې اروپا ته اتیا سلنه د توکیو واردات او صادرات تر سره کړي.

د افغانستان د سوداگري او صنایع خونې د مالوماتو له مخې په کال کې له اروپا او ترکیې څخه د ایران له لارې د کابو نهه سوه میلیون ډالرو په ارزښت بېلابېل توکي هېواد ته واردوي، په داسې حال کې چې دغو هېوادونو ته د صادراتو ارزښت یوازې شپږ مېلیون ډالره دی.

له همدې امله دا بنسټ وایي باید په نمایشي توگه د سوداگریزو توکو یوه کوچنۍ برخه له لاجورد لارې صادره نه‌شي، بلکې حکومت باید د مېلیونونو ډالرو په ارزښت د هېواد د اړتیا وړ توکو وراداتو بهیر له لاجورد لارې پیل کړي، ځکه د ایران لاره هم ډېر لگښت لري او هم پر دغه هېواد د امریکا بندیزونو ته په پام سره ستونزمن کار دی.

افغانستان چې سمندر ته لار نه لري اوس د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره تر ډېره د پاکستان او ایران بندرونه کاروي، خو که چیرې د لاجوردو لار پرانېستل شي او له دې لارې راکړه او ورکړه پیل شي د افغانستان د سوداگرۍ په پرخه کې به یو انقلاب رامنځته شي او د افغانستان محصولات به اروپا او امریکا او همدا ډول له هغه ځایه د اړتیا وړ توکي په ډېره اسانه توگه افغانستان ته راوړل شي.

تر راتلونکې یوې میاشتې به د لاجوردو د لارې په موجودیت کې د افغانستان ۸۰ سلنه صادرات او واردات د منځنۍ اسیا له لارې اروپا ته کېږي. کابل په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې د پاکستان او ایران پر ځای د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره نورې لارې ولټوي، او وروسته له دې به یې ټکیه د لاجوردو پر لار وي.

دلاجوردو لار دافغانستان د هرات له تورغونډۍ پیلېږي او د ترکمنستان هېواد د ترکمن باشي بندر ته رسیږي. د آذربایجان د باکو له ښاره تر تېریدو وروسته، د گرجستان تفلیس سره نښلي او له هغه ځایه به د ترکیې قارس ته رسیږي، چې بیا استانبول او وروسته ازادو اوبو ته لار پیدا کوي.

لاجورد لار په اصل کې د اروپایي او امریکایي نړۍ ته د رسیدلو د لارې بیارغول دي چې لرغونتیا یې له نن څخه وراندې ۲۰۰۰ کلونو ته رسیږي. د لاجورد لار د وخت یو له مهمو مواصلاتي لارو څخه شمېرل کېدله چې د افغانستان لاجورد او ځینې نورې قیمتي ډبرې به له دې لارې د قفقاز، روسیې، بالکان، اروپا او د افریقا شمال هېوادونوته لېږدول کېدلې.

د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان او ترکیې ترمنځ، د لاجوردو لار د ترانزیټي، سوداگریز او ترانسپورټي همکاریو او د ترانزیټي خنډونو د له منځه وړلو او د یادو هېوادونو ترمنځ د گډو گمرکي فعالیتونو د ودې په موخه، او سمندري بندرونو ته د لاسرسي د بدیل په توگه جوړېږي.

د ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان او ترکیې له لارې د سړک او د وسپنې د پټلۍ په واسطه د توکو ترانزیټ د افغانستان، منځنۍ آسیا، قفقاز، بالکان او مرکزي اروپا ترمنځ تر ټولو مناسبه لار ده او له اروپایي هېوادونو سره د سویلی آسیا د نښلولو لپاره ډېره اغېزمنه بلل کېږي. د افغانستان لپاره د دې لارې اهمیت او ارزښت دا دی چې دا لار د پورته یادو شوو سیمو ته د رسېدلو لپاره ترټولو لنډه، ارزانه او ډاډمنه لار ده او بل دا چې د افغانستان محصولات به نړیوال بازار او د نړۍ پرمختللې ټکنالوژۍ او ماشیني توکي به افغانستان بازار کې ځای پیدا کړي.

د افغانستان سوداگرۍ په ځانگړی توگه ترانزیټي سوداگرۍ له ډېرو کلونو راهېسې د گاونډیو هېوادونو له سترو خنډونو سره مخ دی چې تل د دې هېوادونو له لوري په بېلابېلو پلمو اغېزمنېږي، چې د هېواد اقتصاد ته هم درانه زیانونه ور اړوي. نو له همدې کبله افغانستان ته پکار ده، څو د نورو لارو د موندلو په لټه کې ووسي او له یو یادوو گاونډیو هېوادونو له لوري د خپلې اغېزمنتیا کچه راټیټه او بېلابېلو لارو څخه په گټې اخیستنې سره د ځانگړو گاونډیو هېوادونو فشار پای ومومي.

د افغانستان د سوداگرۍ او صنایعو اتاق د افغانستان د حکومت د دې نوښت ملاتړ کوی او په وخت سره یې د دې لارې جوړېدل د افغانستان د خصوصي سوداگرو لپاره یو ډېر ستر گام بولي. د لاجورد لار د پانگې اچونې، کارموندنې او د تولید زمینې برابروي او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره ډېر اړینه ده.

افغانستان هم د خپل موقعیت او همداراز د ۳ زره میلیاردو ډالرو ځمکنۍ زیرمې د ارزښت په موخه اړتیا لري چې بېلابېلې ترانزیټې لارې: لکه وریښمو لاجوردو هوایي او ځمکنۍ لارې تجربه کړي، څو خپل اقتصادي رول څرگند او د سیمې هېوادونه لیواله کړي چې د افغانستان له ترانزیټي او نښلیدو له ارزښت څخه گټه واخلي.

عاشورا در آلمان

تمنا جهش ،المان - هامبورک

عاشورا و محرم در کشور آلمان به هر مسافری که مسلمان باشد و در آن کشور سفر کرده باشد، الهام بخش این است که می‌توان به آینده اسلام و مسلمانان جهان امید وار بود.

مسلمانان جهان در دنیای خارج از ممالک اسلامی اتحاد خوبی دارند و این اتحاد در مراسم مذهبی و مناسبت‌های دینی به مشاهده می رسد. در همین روزهای دهه اول محرم که مناسبت عجیبی در دنیای اسلام دارد، به کشور آلمان سفر کردم و طی این سفر متوجه شدم که با فرا رسیدن روزهای اول محرم یعنی روزهای قیام حضرت ابا عبدالله الحسین(ع)، مراسم یاد بود از این رویداد تاریخی در شهرهای مختلف آلمان برگزار می گردد. دهه اول محرم و به خصوص دهم این ماه (روزعاشورا) را در کشور آلمان، شهر هامبورگ به سر بردم. آنجا شاهد مراسمی بودم که بدین مناسبت برگزار می شد و در آن افغان‌ها، ایرانیان، ترک‌ها، سوری‌ها و مسلمانان از نقاط مختلف جهان حضور می یافتند.

طبق مشاهدات من، مراسم امسال به مناسبت قیام امام حسین، هرشب از ساعت ۹ ونیم با اقامه نماز عشا بگونه جماعت و به امامت یکی ملاامامان بانام "خلیل زاده" آغاز می گردید، پس از نماز مراسم با تلاوت کلام الله مجید، ارایه سخنرانی‌ها و دیدگاه‌ها در مورد حادثه تاریخی کربلا(عاشورا)صورت می گرفت.

آنچه برای هر مسلمانی بسیار جالب است اینکه رویداد کربلا با شرایط امروز تحلیل و بررسی گردد. لذا در آلمان متوجه شدم که ملا امام حادثه کربلا را دارای سه رویکرد بیان کرد و آن روی کردها عبارت اند از رویکرد تاریخی، رویکرد آیینی و رویکرد تربیتی.

به استدلال ملا امام نامبرده، رویکرد تربیتی کربلا عبارت از یک مکتب جامع اسلامی است که در جلوه‌های عقلانی، اعتقادی، عرفانی، اخلاقی و حتی عاطفی خود جلوه می‌کند که در نتیجه این مکتب بازدهنده انسان‌های تعلیم یافته و تربیت شده در مکتب قرآن و اهل بیت می شود.

این درحالی است که براساس مشاهدات، جوانان بخصوص جوانان افغان به جای عقل گرایی و استدلال منطیقی، به عاطفه گرایی افراطی پیرامون این حادثه پرداخته اند و تعادل میان ابعاد و عدم غفلت از یکی و تمرکز بر دیگری را از ضرورت‌های جامعیت تعالیم مکتب و مدرسه حسینی(ع) اعلام کردند.

نه تنها جوانان افغان بل، در بسیاری کشورهای دیگر هم دیده می شود که از بُعد اخلاقی و زیستی کربلا بیشتر تجلیل می شود. در مراسم یاد شده متوجه شدم که استدلال یک انسان کامل در رابطه به حادثه کربلا باید چنین باشد: کربلا صحنه بزرگ انتخاب و فعل انسانی است. کربلا بی نظیرترین صحنه ایست که می توان در آن شاهد بروز آگاهی، اراده و آزادی یک انسان در بالاترین سطوح انسانی بود و می توان آنرا به عنوان یک الگوی فراگیر و تعلیم عمومی برای انسان‌ها به رسمیت شناخت، تا انسان‌ها را از قید و بندهای درونی و بیرونی رها ساخته و آزادی و انسانیت را در بالاترین نصابش به تماشا بگذارد.

البته از بازگو کردن عاشورا در آلمان دور نشویم که در مراسمی که در آن کشور برگزار بود متوجه شدم که مراسم علاوه بر سخنرانی‌ها و ابراز نظرها و استدلال منطیقی حادثه، با برنامه شعرخوانی و مدیحه سرایی نیز دنبال می شد. مداح و شعرگوها ابیاتی را در رابطه به خصوصیات و ویژگی های اهل بیت، انتخاب کرده و بطور مستند و با کیفیت و استفاده از سبک‌ها و نغمات حماسی فضای معنوی، پرشور و شعوری را ایجاد می کردند. همچنین استفاده از اشعار ترکی و عربی در مداحی‌ها توسط در آن مراسم شامل بود که احساس می شد دایره‌ی بیشتری از فرهنگ‌ها و ملیت‌ها را در مراسم تحت پوشش قرار می‌دهند.

مهم‌تر از همه این است که من در این سفرم یافتم که اینجا (در آلمان) مردم از چندین کشور اسلامی و با مذاهب مختلف گردهم جمع می‌شوند و یک پیامی را تکرار می‌کنند و آن پیام این است:"دین اسلام دین مساوات و برابری است که در آن همه خود را برادر و برابر می دانند." چیزی که در کشورهای اسلامی به ندرت به چشم می خورد.

Facebook.com/SarkhatDaily

مجید قرار

تاسې ټول دې خبر یاست، هغه په غلا تورن دپلوماټکوټی مصباح الحق عیني چې ما یې د افغانستان د ولسونو خلاف د کرکې او نفاق عمومي داستان د مثال په توگه یاد کړی و، زما دفتر ته راغی، همالته لنډه غرې یې چې دل یې په کابل کې کوي، دلته زما په دفتر کې وکړه، پر ما یې د وار او حملې هڅه وکړه، فحش یې وویل او د مرگ گواښونه یې را ته وکړل. زه چې د دوی له فاحشه مزاجی خبر وم، او پوهېدم چې کوچنی غبرگون به مې هم دوی ته د فریاد او چغار زمینه برابره کړي، هیڅ ډول غبرگون مې ونه شود او خپل متانت او د یوه ډپلوماټ دروندوالی مې وښود، او د سفارت د وقار او حیثیت لحاظ مې وکړ. که خدای مکړه ما هم لاس اچولی یا برید کړی وای نن به افغانستان د نړۍ په ټولو رسنیو کې مسخره او ډنډوره وای. زه پوهېږم چې د لنډه غر او افغانستان کیسه په یوه دفتر کې، یا یواځې د دې شخص په مجازات نه ختمېږي، په همدې دلیل مې له ټولو دوستانو غوښتنه وکړه چې پر لوی هدف، یعنې له افغانستان څخه د لنډه غرې په لمن ټولولو تمرکز وکړي او خبره شخصي نه کړي. البته په دې دې هم خبر یاست چې لنډه غر کرار نه دې ناست. د دې پر ځای چې زه د هغه د تربیې، اخلاقو، گواښونو، تهدید او فزیکي حملې شکایت وکړم، زه یې په تعصب، کرکه، او نورو مسایلو متهم کړی او خپل وزارت ته یې د ټولو نورو لنډه غرو په ننگه زما شکایت کړی دی. دا چې د نوموړي په اړه تر دې وراندې د تېر سفیر پر مهال رسما شکایت شوی او د سفارت لخوا مرکز ته د نوموړي لخوا د ښځو د آزار، غلا، او ناوړه چلند راپور هم ورکړل شوی او هیڅ ډول اقدام یې په اړه نه دی شوی، زه احساسوم چې زما شکایت هلته بیا هم ځای نه نیسي، پر همدې دلیل، یواځې خپل خواره دوستان او مبارزین شاهدان نیسم او خبر یې ساتم او نوره خبره د لنډه غرو په اړه د افغانستان د ویاړلې ملت پرېکنده پرېکړې ته پرېږدم.
البته زه د سفارت د هغه مکتوب کاپي لرم چې مرکز ته یې د نوموړي لخوا د ښځو د آزار، غلا او نورو مواردو په اړه لیکلی، خو اوس به یې نه خپروو. وار ته به گورو.

مینه ژوند

کلونه مخکې چې موږ وطن ته راستانه شو، ما په عاشورا کې د اهل تشییع وطنوالو مراسم له نږدې نه و لیدلي.
هسې مې ضد وکړ چې لار شو تکیه خانې ته، ځکه کور ته لنډه وه، چې لارو نو ځو شپېې کښېناستو، ښځې تلې راتلې چا ژړل ځوک پټه خوله ناستې وې تگ راتگ روان و.
زما نو نور صبر و نه شو، په خوا کې راسره ملگرې ته مې وویل څه چې ځو دلته خو بېځي د چا سات نه تېرېږي!
او دا خبره مې څو نورو ښځو هم واورېده، اوس نو ورته ټینگه شه⊠ بس دوی خو ښه ډېر هر څه راته وویل خو چې څو نورې را خبرېدې، د هغې ملگرې مې دې خدای مل شي له هغه ځایه یې راوابستلم.
گڼې تر فرخندې به زما کیسه مشهوره وه.⊠
#خاطرات_ټولنه_اصول_قواعد_درناوی

صبور فیضی

اهتزاز بیرق افغانستان به ما افتخار می بخشد!
از آغاز حکومت انتقالی به ریاست حامد کرزی تا سال اخیر حکومت وحدت ملی جوانان نام و بیرق افغانستان را در تمام نقاط جهان به اهتزاز در آوردند.
بیرق در میدان ورزش، تکنالوژی، تعلیم و تربیه، اختراعات، سخنرانی... به اهتزاز در آورده شد اما متاسفانه در عرصه سیاست و اقتصاد هیچ گاهی بیرق مان به اهتزاز در آورده نشد.
ما برای این معضله سیاسی و اقتصادی از حکومت افغانستان می خواهیم در پهلوی شعارهای شایسته سالاری و جوان محوری ضوابط را نسبت به روابط ترجیح بدهد و داشته‌های علمی و معنوی را نسبت به وابستگی‌های سیاسی اولیت ببخشد.
پیشنهاد ما به سیاسیون!
سیاسیون عزیز و گرانقدر یا راه دریابید و یا راه بدهد تا ما بتوانیم از اندوخته‌های علمی و داشته‌های معنوی خود مصدر خدمت افغانستان و جامعه شویم. ولیعهد تعیین نکنید، بل بیاید دست‌های جوانان نخبه و ممتاز افغانستان را بگیرید تا شما وجدانا راحت باشید.
پیشنهاد ما به جوانان!
جوانان عزیز ما در یک مرحله اساس و سرنوشت ساز قرار داریم و با اکثریت بودن مان از کاندید و یا تیمی حمایت کنیم که با برنامه و جوان محور باشد.
ما نسل تغییر و تسخیر هستیم شما اگر بالای زخم‌های کشور مان نمک می پاشید ما با خون خود تمام زخم‌های کشور مان را مرهم می زنیم. تا افغانستان را عاری از تمام معضله‌ها و ناهنجاری‌ها کنیم.

عزیز رفیعی

حسین رهبرِ مردمی
اندک‌ترین رهبران جهان مردمی بوده اند. علت اساسی مردمی نشدن رهبران، فکر برتری جویی و برتری خواهی آنان است. بیشترینه رهبران به برتری از دریچهٔ اقتدار می‌اندیشند در حالیکه مردم به برابری و آزادگی از راه مقاومت. اما مردمی شدن علمیست والاتر از علم دین و هنریست بالا تر از اندوختهٔ بشری. حسین یک آمیزهٔ از همین علم و هنرست که سیزده قرن است هر آزاده و مردمی او را تحسین و خود را پیروش حساب می‌کند.
راهش پر رهرو، روحش آزاد و شهادتش مبارک باد!

نورالله بابکر خیل

ما انسان‌ها تنها یك بار زندگي مي كنيم، قلمروي متعلق به ما زمان حال است. ما نبايد در گذشته سير كنيم و يا اينكه با فكر كردن به آينده از حقائق كنوني دور شويم. مي دانيم كه نمي توانيم گذشته را تغيير دهيم، اما اگر مواظب نباشيم، زمان حال را نابود مي كنيم. همهء ما با توانمندي‌هاي ارزشمندي متولد شده ايم، اما به ندرت از اين توانايي‌ها به طور كامل استفاده مي كنيم. در صورتي كه با دانستن اين موضوع همهء ما مي توانيم زندگي شاد و پرباري داشته باشيم.
به یاد داشته باشیم که ما تنها یکبار شانس آنرا داریم که به عنوان انسانی منحصر به فرد زندگي شادي داشته باشيم. و هيچ شانس دومي نخواهد داشت.

اریانا افغان هوایی شرکت

له کابل هوایي ډګر څخه د یک‌شنبې ورځې د الوتنو مالومات

ځای	الوتنه	ناسته
کابل - کندهار	۱۵:۱۵	۱۶:۱۵
کابل - دوبی	۱۵:۰۰	۱۹:۰۰
کابل - هرات	۱۰:۰۰	۱۱:۱۰

SARKHAT

مسوول مدیر: حمید اسدي
مرستیال: علی نوازش
اډیټران: صفی الله اسد، نقیب غورځنګ
لیکوالان: استاد حبیب الله رفیع، محمد یار یار، مجید قرار، شاهد انسان، حمیدالله فیضي، جمشید غزنیوال، مصباح یوسف او محمد زبید عالمیار
د بازار موندنې مسوول: محمد محسن هادي
ډیزاینر: سراتوس
توزیع: چابک وېشونکي / 0700 62 90 62

Mirwais Maidan, Silow-4th-Street

info@sarkhat.af
www.sarkhat.af
SarkhatDaily
@sarkhatdaily

بازار موندنه | Marketing
+93 0797 62 90 62
+93 0786 62 90 62
Contact Email
marketing@sarkhat.af

یک‌شنبه
درجه به سانتی گراد

کابل	غزنی	کندهار	هرات	مزارشریف	بدخشان	جلال اباد	خوست	بامیان	لوگر	پکتیکا	کندوز	پروان
۲۸°/۱۱°	۲۶°/۱۰°	۳۳°/۱۴°	۳۳°/۱۴°	۳۲°/۲۰°	۲۸°/۱۴°	۳۷°/۲۰°	۳۰°/۱۶°	۱۹°/۸°	۲۹°/۱۰°	۲۳°/۹°	۳۳°/۱۸°	۳۴°/۱۴°

بخت و شنې
په کومه میاشت کې زېږېدلي یاست؟

حمل: بخت مو ملګری کېږي. ډېرې هغه ستونزې به مو حل شي چې تاسې یې اندېښمن کړي یاست. مالي ستونزې مو هم پای ته رسېږي. کارونه به مو وغوړېږي. مخالفین به مو له مخه لېرې شي.

ثور: کورنۍ چارې مو له ستونزو سره مخ کېږي، مګر د غوسې او جذباتو پر ځای، له حوصلې کار واخلئ او په دقت مو هر کار ته پام وکړئ.

جوزا: نیمګړي کارونه به مو بشپړ شي. اندېښنې به مو را کمې شي. هیلې به مو پوره او د مینې کیسې به مو لرې ښې شي. په ځینو ټولنیزو پروګرامونو کې د ګډون چانس په لاس درځي.

سرطان: ډېر پام وکړئ. غوسه او احساسات تر خپله وسه کنټرول کړئ، که‌نه زیان به وکړئ. ګډ کارونه به مو د ستونزو ښکار شي.

اسد: له نابلدو خلکو سره لږ احتیاط کوئ، که‌نه زیان به در ورسوي. کورنۍ ستونزې به مو په ښه ډول حل شي. هغوی چې مامورین دي، لږ به اندېښمن شي. له ملګریو سره مو هم اختلاف پیدا کېږي.

سنبله: تر ډېره به مو پام مالي او ګډ کار روزګار ته وي. په جایداد پورې اړوندې چارې مو په سم ډول پای ته رسېږي.

مېزان: د اوږده وخت لپاره تر پانګه‌وني وړاندې ښه فکر وکړئ، ځو ډاډه شوي نه یاست، په دې برخه کې کوټلې ګامونه مه پورته کوئ. ملګري به مو هم مرسته درسره وکړي.

عقرب: نن ورځ چې هر څوک نوی کار پیل کړي، د ژوند تر پایه به یې خوند اخلي. ملګري به مو درسره مرسته وکړي. د چکر یو چانس هم په لاس درځي، خوند ترې واخلئ.

قوس: کورنۍ وضعیت به مو ښه شي. په خپلو چارو کې د نورو پرېکړو ته اجازه مه ورکوئ، که‌نه زیان به وکړئ. هغوی چې زده‌کوونکي دي، د علم په لاس‌ته راوړلو کې به ښه وځلېږي.

جدي: د مالي مسایلو د حل په برخه کې ښه دقت وکړئ. د جایداد په برخه کې پانګه‌ونه مو په ګټه ده. له ملګریو او خپلوانو سره به مو اړیکې ښې شي.

دلوه: ډالۍ یا لاټرۍ به مو راووځي. هغوی چې مامورین دي، په ښه ډول به یې چارې روانې وي. له خپل ګاونډي سره مرسته وکړئ.

حوت: د نوې پانګه‌ونې چانس په لاس درځي. په ټولنیزو چارو کې د ګډون چانس په لاس درځي. روغتیا ته مو پام زیات کړئ.

سینما

انتخاب بازیگر نقش منفی «جیمز باند» در هاله‌ای از ابهام
| ادامه ۱۸

تایگر شروف هم هالیوود ته روان دی
| پاڼې ۱۹

تکنالوژی

سمسونګ۳کامره‌یي موبایل جوړ کړ
| پاڼې ۲۰

برنامه‌ای فروش ۱۰ میلیون موتر برقی فولکس واگن
| ادامه ۲۱

جالب

د ۲۶ کلنې ماشومې اشتها بنده ده
| پاڼې ۲۲

اینموری؛ هنر جاپانی خوابیدن سر کار
| ادامه ۲۳


ولي محمد فخري

هغه نجونې چې تر ډېره مجردې پاتېږي

دا هم یو جدي ګواښ دی، که فکر پرې و نه‌شي د یوې سالمې ټولنې لپاره سرخوړی دی. کېدای شي د مجردو پېغلو او ځوانانو د شمېر زیاتېدل ګڼ نور عوامل هم ولري، مګر ځینې له دغو عواملو دلته په ګوته کېږي.

دا په دې ناما چې یو شمېر نجونې له هماغه پېغلتوبه خپلو خپلوانانو ته جذابې وي او خواستګران یې هم زیات وي، خو د ځینو نورو تر زړښته هم څوک پوښتنه نه کوي. دا چې ولې درنو میرمنو په غور یې ولولئ!؟

هغه نجونې چې د ځانونو لهپاره «نارینه» شوي

د دوی ډېری یې د نارینه‌وو کارونه کوي، خوی او خبرې یې نارینه‌وو ته پاتې کېږي او ان د لباس او سینګار په انتخاب کې هم د نارینه‌وو په شان وي، ځکه خو تر پایه د ځوانانو لهپاره جذابې هم نه وي. سره له دې چې دوی په دغو کارونو د شرم احساس نه کوي، بلکې ان افتخار هم پرې کوي او په افغاني محافظه‌کاره ټولنه کې دا ډول نجونې د ډېرو کمو میندو د انتخاب لایقې ګرځي چې خپلو کورونو ته یې راولي.

د نارینه‌وو په شان کالي، د نارینه په شان کارونه، د نارینه‌وو په شان د اندامونو ښوول او د نارینه‌وو په شان ناسته ولاړه د دغو نجونو د شباهت نور ټکي دي.

ښځه یو ظریف مخلوق دی او هغوی ته نه ښایي چې د نارینه‌وو په شان ځان وښي، په مقابل کې یې هغه ځوانان هم کېدای شي د پېغلو د انتخاب وړ و نه ګرځي چې ناسته پاسته یې د نجونو په شان وي.

خرافاتي نجونې

په دې کتګوري کې هغه نجونې راځي چې په خرافاتي امورو عقیده لري. له د پېریانو میاشت، زیارتونه، فال لیدل، مګر دا عوامل هغه مهال لا پسې سختېږي چې په کارونه او انتخاب کې یې نجونې دومره مبالغه وکړي چې د کلي او کوڅې خلک یې هم وېپژني. د دې لهپاره یو لوی دلیل دا هم دی چې دغه ډول نجونې په خرافاتو زیاتې پیسې لګوي او کله هم میندې نه غواړي د لوړو مصروفونو نګندې خپلو کورونو ته بوځي.

ډېرې نازدانه نجونې

هغه نجونې چې په هر څه کې ناز کوي او ان د عادي کالیو او لوښو د پرېمځلو لهپاره د ښوونکي موقف نیسي، د هلکانو د میندو نه خوښېږي. دا سمه ده چې روغتیا ته باید پام وشي، خو له حده زیاته محافظه‌کاري د ټنبلي مانا لري، ځکه دوی له کارونو د ځانونو د پټولو لهپاره نازدانه اداګانې را مخ ته کوي او هر کله هڅه کوي چې د کور له کارونو په همدغو شیانو ځانونه پټ کړي.

پیسه‌دوسته نجونې

د تشریح لهپاره حاجت نهشته. دغه ډول نجونې ډېرې نښې لري چې تر هر چا یې د هغوی خواستګران او راتلونکي خواښیاني ډېرې ژر پېژني. د هغوی ذهن هر کله په مالي مسایلو کې نښتی وي، کور، موټر، ښه موبایل، کمپیوټر، قیمتي ګاڼې او د نورو شرایطو ایښودل د ژوند جوړولو معیار ټاکي، په داسې حال کې چې مینه د ژوند یوازېنی معیار دی او که چېرې یوه جوړه یو بل خوښ کړي، په کندې کور کې هم په خوښۍ ژوند کولای شي.

محدودیت ټاکوونکې

د راتلونکي خاوند لهپاره د محدودیتونو ټاکوونکې نجونې ډېر ژر خپل خواستګران له لاسه ورکوي او هغوی چې په خپلو راتلونکو خاوندانو شرایط وضع کوي، تر ډېره یې څوک د ژوند په ملګرتیا نه نیسي.

می‌دانید شیر مادر چه نعمتی است؟

سلام کودکان عزیز!

در این مطلب برای تان در باره شیر مادر به عنوان بزرگ‌ترین نعمت خوراکی برای تان می‌گوییم.

شیر مادر پر از مواد مغذی و سالم است که به کودک در رشد و مبارزه با بیماری کمک می‌کند. شیر مادر غذایی دلخواه هر کودک است.

ویتامین K یکی از ترکیبات موجود در شیر مادر است. مقدار کمی ویتامین K در شیر مادر وجود دارد و همه نوزادان در هنگام تولد، کمبود ویتامین K دارند. نوزادان به ویتامین K نیاز دارند تا خون را لخته و خونریزی کنترول گردد.

کودک برای جذب کلسیم از ویتامین D استفاده می‌کند تا به ساخت استخوان ها و دندان‌های قوی کمک کند. ویتامین D همچنین نقش مهمی در سیستم ایمنی بدن دارد و به جلوگیری از عفونت کمک زیادی می‌نماید.

کمبود ویتامین D باعث به وجود آمدن بیماری نرمی استخوان در کودکان می‌شود.

آهن یک ماده معدنی ضروری برای رشد و تکامل کودک است. آهن برای ساختن گلبول‌های سرخ حاوی اکسیجن در سراسر بدن لازم است. اگر نوزادی به اندازه کافی آهن دریافت نکند، دچار کم خونی می‌شود. کم خونی ناشی از فقر آهن ممکن است هیچ نشانه‌ای نداشته باشد یا باعث ایجاد رنگ پریده‌گی، ضربان قلب بالا، مشکل تغذیه و ضعف شود. کمبود آهن در درازمدت می‌تواند به مشکلات بدن و مغز منجر شود.

فلوراید یک ماده معدنی ضروری است که دندان کودک را تقویت و از خرابی دندان جلوگیری می‌کند. این مواد معدنی در شیر مادر موجود است.